شهسوار سنگروال ۲۰۲۱/۰۶/۰۱

افغانان له پارس نه تر هندوستانه

۱۱مه برخه

لومړی څپرکی

ساک، ساکان او سکستان:

یو شمېر ختیځپوهان انګېرې چې ساکان د مخزېږدي اوومې پېړۍ په پیل کې د کېکاس له غرونو را تېر شول، د باختر په شمال، مینځي اسیا، په ځانګړي ډول اذربایجان کې په یو شمېربریدونو او ګواښونولاس پورې کړ ،چې بیا له مادیانو سره لاس او ګرېوان شول.

د «بارتولډ» د څرګندونو له مخې ساکانو د مخزېږدي اوومې پېړۍ د زرنجیانا شاوخوا سیمې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او ورورو یې بیا د یوه حکومت بنسټ کېښود.

د بارتولډ د خبرې مانا دا نده چې دغه وګړي یو ناڅاپه دغه سیمې ته را ننوتي دي، بلکې ساکان یو جنګیالی ټبر وه، چې د کسپین له سمندرګي نیولې تر یورال او بیا تر میځنۍ اسیا پورې را رسېدلي دي.

»د هخامنشي پاچاهانوپه ډېرلیکونوکې په ډاګه شوي، چې د ساکه ټبر د امو ها غاړې ته د پامیر په شاوخوا کې، د هومه راوړونکیو، یاد ګړندیو ساکانو په نومونو، د هغو پاچهانو تر ادارې لاندې اوسېد لې او د پارت له لارې د زرنګه – درنګیانه ځمکې ته را تېر شوي، خپل نوم یې سکستان = سیستان ته ورکړی وو،او هم یې د هندوکش په شمالي سیمو او باختر کې ژوند کاوه، چې کورنۍ یې بیا له دې ځایه لوېدیځ او ختیځ خوا ته خپرې اوکډه شویدي .

د دوی پېښې د اریایانو د تاریخ برخه ګڼل کېږي.»او په اولسي روایتونو کې هم«ساک = سهاک» د یما = یاما (جمشېد) د خور زوی ګڼل شوی دی، او ویل کېږي چې د یاما واکمني د خپل خوریي لخوا له مینځه لاړه. ولې وګړي له ده څخه خوابدي شول، نو بیا یې د «کاوه» نومې پښ په سرداری او د فریدون په سرداری پاڅون وکړ سهاک ماته وخوړه.

فریدون چې د یما زوزات ګڼل کېده، د ده په مټ پېشدادی کورنۍ یو ځل بیا واک ته ورسېده.

له پېشدادیانو وروسته د کاویان د کورنۍ لومړی واکمن «کی قباد» واکمن شو، چې له ده نه وروسته «کیکاوس» او له وروستي ټولواک «کی خسرو» نه وروسته په بلخ او باختر کې «اسپه کورنۍ» واک ته ورسېده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له «لهراسپ» نه وروسته د ده زوی ویشتاسپ (گشتاسپ) یو ځواکمن واکمن وه، چې زرتښت دین د یوه «واحد خدای» یا اهوره د لمانځنې لپاره مینځته راغی او د اوستا سپېڅلی کتاب یې د غوایانو پر ۱۲۰۰۰ پوستکو په سروزرو ولیکه، چې له بده مرغه د بهرنیو یرغلګرو لخوا یې ډېره برخه زیانمنه شوه.

پدغه اوستایي عصر کې چې کوم قومونه د مخزېږدي زرو کلو په شاوخوا کې په باختر، اراکوزیا (اراخوزیا)، درنګیانا او یو شمېر نورو سیمو کې اباد ول، یو هم ساکي (امورګی ساک) تېر وه.

که څه هم په دغه وخت کې ساکانو د زرتښت دین نه وه منلی، ښایي چې د لمر خدای د اسمان خدای، د ځمکې خدای یا د نورو مقدساتو لمانځنه به یې کوله.

ولې دلته د ساکانو د شتون څو لاملونه د پام وړ دي. لومړی خو همدا چې په زرتښتي متونو کې ساکو ته سپکې سپورې ویل شوې دي. دویم داچې همدغه سند دا په ګوته کوي چې ساکان له زرتښتیانو سره، ګاونډیان ول.

»د میلاد نه د مخه د زرو کلونو په نیمایي کې په پامیر او هغه ته په نژدې سیمو کې یوه واحده ټولنه جوړه شوې وه چې واحد کلتور یې لاره. تصور کېږي چې دا د «هوماورګ ساکو» ټولنه وه چې د نقش رستم په یادګار او د «دارا» (دار = داریوش) په نورو کتیبو کې یاد شوی دی. هېرودوت (امورګي سکیفیانو) د نړۍ جنوب ختیځ څنډې ښوولی دي.»(۱

که څه هم د ایراني داریوش Daiusپه کتیبو کې د دوی یادونه شوې ده، ولې په خواشینۍ سره باید وویل شي چې دوی د خپلې واکمنۍ په مهال د کوشانیانو په پرتله دومره لرغوني یادګارونه اوسني کول (کهول) ته په میراث ندي پرې ایښي، چې اوس یې له بابته ډېر تیاره ګوټونه روښانه شوي وای.

که څه هم موږ د مخه د زرتښتي یادښتونو له مخې انګېرل، چې ساکان یې غندلي دي. ولې یو شمېر واکمنو بیا، نه یوازې د دوی د ځواک ستاینه کړې ده، بلکې د دوی د ښو کړنو جاج یې هم اخستی دی.

»د میوسیوفوشه په وینا لوی کوروش څلورسوه پنځوس مخزېږدي، د سیستان د نیولو پر وخت، دا ساکان د دوی د ښو خدمتونو له امله، ښه کړوني)په یونانې کې ایویرګټ (Evergetesبلل. همدا خلک د درېسوه دېرش مخزېږدي په شاوخوا کې په همدې ځمکې اوسېدل، چې سکندر هم دوی نازولي وو او ښه نرمه رویه یې ورسره درلوده)«.۲(

ساکان که د یوه جنګیالي تېر په توګه د هخامنشیانو او یونانیانو د واکمنۍ په مهال پیاوړي ول، خود پوره وړتیا څښتن هم وه. نو د همدې ځواک له مخې یې بیا یوه لویه ټولواکمني جوړه کړه. ساکان که په مینځنۍ اسیا کې استوګن وه او که په مینځني ختیځ کې، یا په ختیځه او لوېدیځه اریانا کې، خو پخپل یو موټیتوب یې په دویمې مخزېږدي پېړۍ کې، د اوسني سیستان په شاوخوا پراخه سیمه کې، د یوې لویې ټولواکمنۍ بنسټ کېښود. (پارت په ساکي ژبه تبعید شوي ته وایي) ساکانو په ۱۲۰ ق م، ۷۲ ق م، ۵۸ ق م او ۴۸ ق م کلو شاوخوا کې، چې لومړی یې د ارغنداب په سیمه کې د یوه حکومت بنسټ کېښود .

بیا یې له اوسني افغانستان نه را واخله تر پنجابه، د اوسني ایران ځنی برخې، د خپلې ټولواکمنۍ لاندې راوستې. ټکسلا یې هم ونیوله او شهینشاه یې د «مایوس» په نوم یادېده)«.۳ (یوشمېرځېړونکي په دې اند دي، چې

سیستا ن ،کند ها ر،زرنګ، هېتو مند، (هېرمند، هلمند) اوله پارس نه نیولې ترټکسلاپورې سیمې ددې دواکمنۍ برخه وه، چې پلا ز مېنه یې سیستا ن وو .

یا قوتي حموي وا یې،له کشمیر نه دسیند تر غا ړې اوبیا عرب تر سمندر ګې پورې دغه ټوله پرا خه سیمه ددوی دټولواکمنۍ برخه وه .

لرغون پوهانو دغه ځمکه شپاړسمه نا حیه بللې ،ولې په اوستاکې « ۱۱» نا حیه بلل شویده .لوې سیستا ن هغه مهال ډېر نا متو شو،چې سا کا نو یوه لویه ټولو اکمنۍ جوړه کړه ... دمحمد تقي بها ر خبره،سیستا ن سکستا ن دی او مخکې تر هغه دسیستا ن نو م « زرنګا » وو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ویل کیږي ګرشا سپ لومړی واکمن وه،چې په سیستا ن کې د یوه ښا ربنسټ کیښو د .ولې یوشمېر روایتو نه شتون لري چې دلته ضحا ک (سهاک)میلمه شوی وه ، نو ځکه دا سیمه د سها ک پنو م ونومول شوه ...خولرغون پو ها ن ټینګا ر کوي چې کله سا کانوهجرتونه پیل کړل نو دویم اشکا ني فر ها د (۱۳۶م ز—۱۲۸ م ز) به مها ل په زرنګ کې میشت شول .

سترا بو ن اوبطلیموس له هیرودوت سره په لږ توپیر « درانګي » ګڼلی دی ، مسیوبار تولد د « زرانچي » اوسېدونکي اسکا یی (سا کا ن) بللي دي .

د تاریخ په دغه مهال نه یوازې سهاکو له اوسني افغانستان نه بهر په ختیځ او لوېدیځ کې، د یوې لوی ټولواکمنۍ بنسټ کېښود، بلکې د دوی له واک نه وروسته د دوی تربورانو کوشانیانو هم یوه پراخه امپراتوري جوړه کړه.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ